**دافغانستان اسلامی جمهوریت**

**دعدلیی وزارت**

# رسمی جریده

**فوق العاده گڼه**

## د احصايې قانون

## قانون احصائیه

دخپریدو نیټه د ۱۳۹۲هـ.ش کال د چنگاښ دمیاشتی (۱۲) پرله پسی نمبر (۱۱۱۰)

تاریخ نشر : ( ۱۲) سرطان سال ۱۳۹۲ هـ. ش نمبرمسلسل (۱۱۱۰)

**در این شماره :**


۱-  قانون احصائیه صفحه (۱- ۲٦)



**د امتیاز خاوند : دعدلیی وزارت**

مسؤل چلوونکی : قانونمل محمد رحیم"دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

ددفتر تیلفون : ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹

مرستیال : نور علم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

مهتمم: محمدجان ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲

ویب سایت : www.moj.gov.af

قیمت این شماره : ........................................(۳۰) افغانی

تیراژ چاپ اول :..........................................(۳۰۰۰)جلد

آدرس :وزارت عدلیه ، ریاست نشرات ، چهارراهی پشتونستان ، کابل

## د احصائيې د قانون
## د توشېح په هکله، د افغانستان
## اسلامي جمهوريت د رئيس
## فرمان

ګڼه: (۱۰)

نېټه: ۱۳۹۲/۲/۷

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴) مادې د (۱٦) فقرې د حکم له مخې، د احصائيې قانون چې د ملي شوري د مجلسينو د ګډ هيئت د ۱۳۹۱/۱۰/۱۱ نېټې (۸٦) ګڼې پرېکړې پربنسټ، په (۷) فصلونو او (۲٦) مادوکې تصويب شوی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

دغه فرمان له قانون او د ملي شوري د مجلسينو د ګډ هيئت له پرېکړې سره يوځای په رسمي جريده کې خپور او د خپرېدو له نېټې څخه نافذ او په نافذېدو سره يې، د ۱۳۸۴کال په (۸۷۴) ګڼه رسمي جريده کې خپور

## فرمان
## رئيس جمهوری اسلامی افغانستان
## در مورد توشيح
## قانون احصائيه

شماره: (۱۰)

تاريخ: ۱۳۹۲/۲/۷

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم فقرۀ (۱٦) مادۀ (٦۴) قانون اساسی افغانستان، قانون احصائيه را که براساس فيصلۀ شماره (۸٦) مؤرخ ۱۳۹۱/۱۰/۱۱ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به داخل (۷) فصل و (۲٦) ماده به تصويب رسيده توشيح می دارم.

**مادۀ دوم:**

اين فرمان همراه با قانون و فيصلۀ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی در جريدۀ رسمی نشر و از تاريخ نشر نافذ و با انفاذ آن، قانون احصائيه منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۸۷۴) سال

شوی د احصائيې قانون دې، ملغي شي. ۱۳۸۴ ملغی گردد.

حامد کرزی حامد کرزی

د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

فيصله

د احصايې قانون

ګڼه: (۸٦)

نېټه: ۱۱/ ۱۰/ ۱۳۹۱

د افغانستان د اساسي قانون د سلمې مادې له درج شوي حکم سره سم، د ملي شوري د دواړو غونډو له درې درې غړو څخه جوړ شوی ګډ هیئت د احصايې قانون په اوو فصلونو او (۲٦) مادوکې له يو شمېر تعديلونو او ايزاد سره يو ځای د ۱۳۹۱ کال د مرغومي د مياشتې په يوولسمه نېټه فيصله کړ.

د ګډ هیئت رئيس

عبيدالله رامين

د ګډ هیئت معاون

مولوی عبدالوهاب عرفان

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

فيصله

قانون احصائيه

شماره: (۸٦)

تاريخ: ۱۳۹۱/۱۰/۱۱

به تأسی از حکم مندرج مادهٔ صدم قانون اساسی افغانستان، هيئت مختلط مجلسين شورای ملی مرکب از سه سه نفر از اعضای هر جرگه قانون احصائيه را به داخل ۷ فصل و (۲٦) ماده توأم با يک سلسله تعديلات و ايزاد به تاريخ ۱۳۹۱/۱۰/۱۱ فيصله نمود.

رئيس هيئت مختلط

عبيدالله رامين

معاون هيئت مختلط

مولوی عبدالوهاب عرفان

# فهرست مندرجات قانون احصائیه

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ماده اول: | مبنی | ۱ |
| ماده دوم : | هدف | ۱ |
| ماده سوم : | نشر ارقام احصائیوی | ۲ |
| ماده چهارم: | بودجه | ۲ |
| ماده پنجم : | کمیته ملی احصائیه | ۳ |
| ماده ششم : | وظایف وصلاحیت های کمیته ملی احصائیه | ۴ |


## فصل دوم

## تشکیل و وظایف


| | | |
|---|---|---|
| ماده هفتم: | اداره | ٦ |
| ماده هشتم: | وظایف وصلاحیت های ادارهٔ مرکزی احصائیه | ٦ |
| مادهٔ نهم: | ترتیب پلان کاروگزارش سالانه | ۹ |


## فصل سوم

## جمع آوری معلومات احصائیوی


| | | |
|---|---|---|
| مادهٔ دهم: | کارکنان احصائیه | ۱۱ |
| مادهٔ یازدهم | تشریک معلومات | ۱۲ |
| مادهٔ دوازدهم: | فورمه های معلومات احصائیوی | ۱۳ |
| مادهٔ سیزدهم: | اظهارنامه های مالیاتی | ۱۴ |
| مادهٔ چهاردهم : | اظهارنامهٔ واردات وصادرات گمرکات | ۱۵ |

مادۀ پانزدهم: سرشماری نفوس.......................... ۱۵
مادۀ شانزدهم: سرشماری زراعتی............................ ۱۶
مادۀ هفدهم: پرسشنامه های سرشماری....................... ۱۶

## فصل چهارم

## حفظ محرمیت معلومات

مادۀ هجدهم : محرمیت ارقام ومعلومات ....................... ۱۶
مادۀ نزدهم: تحلیف........................................ ۱۸

## فصل پنجم

## اجازۀ دسترسی به معلومات احصائیوی

مادۀ بیستم: افشای معلومات............................ ۲۰
مادۀ بیست ویکم: مصئونیت معلومات........................... ۲۲

## فصل ششم

## احکام جزایی

مادۀ بیست ودوم: افشای معلومات محرم ......................... ۲۳
مادۀ بیست وسوم: تزویرکارت هویت کارکنان ادارۀ مرکزی احصائیه...۲۴

## فصل هفتم

## احکام نهایی

مادۀ بیست وچهارم : سمبول ........................................ ۲۵
مادۀ بیست وپنجم : وضع مقرره ..................................۲۵
مادۀ بیست ششم : تاریخ انفاذ ....................................۲۵

## د احصايې قانون

## لومړی فصل

## عمومي حكمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون په هېواد کې د احصائيوي فعاليتونود تنظيم، او د احصائيې دمركزي ادارې دتشكيل، دندو او واكونو د توضيح په منظور وضع شوی دی.

**موخه**

**دوه يمه ماده:**

د احصائيې مرکزي اداره په هېواد کې د احصائيوي ثبت د علمي واحد سيستم د جوړولو او د ټولو احصائيوي فعاليتونو د هم غږۍ او سمون د تأمينولو په منظور د دولتي خپلواکې ادارې په توګه فعاليت کوي.

## قانون احصائيه

## فصل اول

## احكام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

اين قانون به منظور تنظيم فعاليت های احصائيوی در كشور وتشكيل، توضيح وظايف و صلاحيت های ادارۀ مرکزی احصائيه وضع گرديده است.

**هدف**

**مادۀ دوم:**

ادارۀ مرکزی احصائيه، به منظور ايجاد سيستم واحد علمی ثبت احصائيوی و تأمين هماهنگی و انسجام تمام فعاليت های احصائيوی درکشور، منحيث ادارۀ مستقل دولتی فعاليت می نمايد.

**د احصائيوي ارقامو خپرول**

**درېيمه ماده:**

احصائيوي رسمي ارقام اومعلومات د احصائيې د مرکزي ادارې له خوا خپرېږي.

وزارتونه، ادارې، دولتي مؤسسې، ښاروالۍ ګانې، ګډ(مختلط) او خصوصي شرکتونه او د هېواد اتباع هم کولای شي د احصائيې له مرکزي ادارې سره په تفاهم کې،د احصائيوي ارقامو او معلوماتو په خپرولو لاس پورې کړي.

**بوديجه**

**څلورمه ماده:**

(۱) د احصائيې مرکزي اداره د خپلواکې بوديجې لرونکې ده چې د قانون د حکمونو مطابق ئې پړاوونه تيرېږي.

(۲) د احصائيې دمرکزي ادارې عمومي رئيس د ادارې د بوديجې له سم تطبيقولو څخه مسئوليت لري.

**نشرارقام احصائيوی**

**مادهٔ سوم:**

ارقام ومعلومات احصائيوی رسمی ازطرف ادارهٔ مرکزی احصائيه نشر می گردد.

وزارت ها، ادارات، مؤسسات دولتی، شاروالی ها، شرکت های مختلط وخصوصی و اتباع کشورنيزمی توانند درتفاهم با ادارهٔ مرکزی احصائيه، به نشرارقام ومعلومات احصائيوی بپردازند.

**بودجه**

**مادهٔ چهارم:**

(۱) ادارهٔ مرکزی احصائيه دارای بودجهٔ مستقل بوده که طبق احکام قانون طی مراحل می گردد.

(۲) رئيس عمومی ادارهٔ مرکزی احصائيه ازتطبيق سالم بودجهٔ اداره مسئوليت دارد.

**د احصائيې ملي کميټه**

**پنځمه ماده:**

(۱) په هېواد کې د احصائيوي چارو د ښه تنظيم په منظور، د احصائيې ملي کميټه له لسوغړو څخه جوړه په لاندې ترکيب سره رامنځته کيږي:

۱- د جمهوررئيس مرستيال د رئيس په توگه.

۲- د اقتصاد وزير د غړي په توگه.

۳- د ماليې وزيردغړي په توگه.

۴- د پوهنې وزير د غړي په توگه.

۵- دکار،ټولنيزوچارو،شهيدانواومعلولينو وزيردغړي په توگه.

۶- د کرنې، اوبولگولواو مالدارۍ وزير د غړي په توگه.

۷- د عامې روغتيا وزير د غړي په توگه.

۸- د افغانستان بانک لوی رئيس د غړي په توگه.

۹- د افغانستان د علومو اکاډمي رئيس د غړي په توگه.

**کميتهٔ ملی احصائيه**

**مادهٔ پنجم:**

(۱) به منظور تنظيم بهترامور احصائيوی درکشور، کميتهٔ ملی احصائيه متشکل از ده عضو به ترکيب ذيل ايجاد می گردد:

۱- معاون رئيس جمهوربحيث رئيس.

۲- وزير اقتصاد بحيث عضو.

۳- وزير ماليه بحيث عضو.

۴- وزير معارف بحيث عضو.

۵- وزيرکار، امور اجتماعی، شهدا و معلولين بحيث عضو.

۶- وزير زراعت، آبياری ومالداری بحيث عضو.

۷- وزير صحت عامه بحيث عضو.

۸- رئيس عمومی د افغانستان بانک بحيث عضو.

۹- رئيس اکادمی علوم افغانستان بحيث عضو.

۱۰- د سوداګرۍ او صنايعو خونې عامل هيئت رئيس د غړي په توګه.

(۲) د احصائيې د ملي کميټې عادي غونډې لږترلږه په کال کې دوه ځلې جوړېږي. فوق العاده غونډې د رئيس دليدلوري له مخې يا د غړو د يوه ثلث په وړانديزسره جوړيدای شي.

(۳) د احصائيې د ملي کميټې د اجراآتوکړنلاره د کميټې له خوا تصويبېږي.

## د احصائيې د ملي کميټې دندې او واکونه

شپږمه ماده:

د احصائيې ملي کميټه د لاندې دندو اوواکونو لرونکې ده:

۱- د هغه کلني رپوټ په هکله د نظر څرګندول چې د مرکزي احصائيې د ادارې عمومي رئيس يې حکومت ته وړاندې کوي. د کميټې نظريې په رپوټ کې درجيږي.

۱۰- رئيس هيئت عامل اتاق تجارت وصنايع بحيث عضو.

(۲) جلسات عادی کميتهٔ ملی احصائيه حد اقل سال دوبار داير می گردد. جلسات فوق العاده به صوابديد رئيس يا پيشنهاد يک ثلث اعضاء داير شده می تواند.

(۳) طرزالعمل اجراآت کميتهٔ ملی احصائيه ازطرف کميته تصويب می گردد.

## وظايف و صلاحيت های کميتهٔ ملی احصائيه

مادهٔ ششم:

کميتهٔ ملی احصائيه دارای وظايف وصلاحيت های ذيل می باشد:

۱-ابراز نظر درمورد گزارش سالانه ايکه رئيس عمومی ادارهٔ مرکزی احصائيه به حکومت ارائه می نمايد. نظريات کميته درگزارش درج می گردد.

**۲- د مرکزي احصائيې د ادارې د تشکيلاتي او بوديجوي اړتياووپه هکله د نظرڅرګندول.**

**۳- د احصائيې د مرکزي ادارې له خوا د تطبيق او عمومي ګټې اخيستنې په منظور، د احصائيوي تصنيفونو تصويبول اوځېړل.**

**۴- د نورو وزارتونو او دولتي ادارو د احصائيوي کاري پلانونو کتنه او څېړنه، تأييدول يا ردول.**

**۵- عندالضرورت د فرعي کميټو او اختصاصي سلاکارو ګروپونو رامنځته کول.**

**۶- د حقايقو د کتمان او د جعلي احصايوي ارقامو د خپرولو په صورت کې عدلي او قضايي مراجعو ته د احصايي د مرکزي ادارې د رئيس ورپيژندل.**

**۲- ابرازنظردرمورد نيازمندی های تشکيلاتی وبودجوی ادارهٔ مرکزی احصائيه.**

**۳- تصويب و بررسی تصانيف احصائيوی، به منظورتطبيق واستفادهٔ عمومی آن ازطرف ادارهٔ مرکزی احصائيه.**

**۴- مطالعه وبررسی، تأييد يا رد پلان های کاری احصائيوی ساير وزارت ها وادارات دولتی.**

**۵- ايجاد کميته های فرعی وگروپ های مشورتی اختصاصی عندالضرورت.**

**۶- معرفی رئيس ادارهٔ مرکزی احصائيه به ارگان های عدلی و قضايی در صورت کتمان حقايق و نشر ارقام جعلی احصائيوی.**

## دوه یم فصل

## تشکیل او دندې

**اداره**

**اوومه ماده:**

(۱) د مرکزي احصائیې د ادارې په سرکې عمومي رئیس قرارلري چې د قانون د حکمونومطابق ټاکل کیږي.

(۲) د مرکزي احصائیې د ادارې عمومي رئیس د هېواد په سطح د احصائیې اخیستنې د چارو له بهیر څخه ددې قانون د حکمونومطابق څارنه کوي.

(۳) د احصائیې مرکزي اداره له مرکزي، ولایتي اوسیمه ییزو دفترونو څخه جوړه ده.

**د احصائیې د مرکزي ادارې دندې او واکونه**

**اتمه ماده:**

داحصائیې مرکزي اداره دلاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱- د سوداګریز، صنعتي،کرنیز،

## فصل دوم

## تشکیل ووظایف

**اداره**

**مادهٔ هفتم:**

(۱) در رأس ادارهٔ مرکزی احصائیه رئیس عمومی قراردارد که مطابق احکام قانون تعیین می گردد.

(۲) رئیس عمومی ادارهٔ مرکزی احصائیه از جریان امور احصائیه گیری در سطح کشور مطابق احکام این قانون نظارت می نماید.

(۳) ادارهٔ مرکزی احصائیه متشکل از دفاتر مرکزی، ولایتی و محلی می باشد.

**وظایف و صلاحیت های ادارهٔ مرکزی احصائیه**

**مادهٔ هشتم:**

ادارهٔ مرکزیاحصائیه دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشد:

۱- جمع آوری، توحید،

مالي، ټولنيز،اقتـــصادي،روغتيايي، چاپيريالي (محيطی) او دخلکـــو د عمومي فعاليتونو د وضعې په چارو پورې د اړوندو مواردو د احصائيوي مستندو، دقيقو او پروخت معلوماتو راټولول، توحيدول، تحليلـــول او خپرول.

۲- له وزارتونو او دولتي ادارو سره د هغوی له فعاليتونو څخه د ترلاسه شوواحصائيو په شمول د احصائيوي معلوماتو په راټولولو، ترتيبولـــواو خپرولو کې مرسته کول.

۳- د احصائيوي سروې ګـــانو او نفوسو د سرشميرنې اجراء کول.

۴- د هغو معلوماتو په هکله چې د وزارتونو او دولتي يـــا غيردولتـــي اداروپه واسطه راټوليږي د عمل له تکرارڅخه مخنيوی.

۵- په ټول هېواد کې د اقتصادي او ټولنيزو توحيد شوو احصائيو عمومي وده او پرمختيا او د هغود توحيدولو لپاره د پلانونو سمون.

۶- د وزارتونو او نـــورو دولتـــي

تحليـــل و نـــشر معلومـــات بـــه موقع، دقيق و مستند احـــصائيوی درمـــوارد مربـــوط بـــه امـــور تجارتی، صنعتی، زراعتی، مـــالی، اجتمـــاعی، اقتـــصادی، صـــحی، محيطی و وضـــع فعاليـــت هـــای عمومی مردم.

۲- همکاری بـــا وزارت هـــا و ادارات دولتـــی در جمـــع آوری، ترتيب ونشرمعلومات احـــصائيوی به شمول احصائيه هـــای حاصـــله از فعاليت آن ها.

۳- اجـــرای ســـروی هـــای احصائيوی و سرشماری نفوس.

۴- جلوگيری ازتکرارعمل درمورد معلوماتی که توسط وزارت هـــا و ادارات دولتی يا غير دولتی جمع آوری می گردد.

۵- رشـــد وانکـــشاف عمـــومی احصائيه های توحيد شدۀ اقتصادی و اجتمـــاعی درسراسرکـــشور و انسجام پلان ها جهت توحيد آن.

۶- انکشاف و تجويز تصانيف و

ادارو دګټې اخيستنې لپاره دتصنيفونو او مناسبواحصايوي ستندردونو پرمختيا او تجويزول.

۷- د احصائيوي معلوماتو لرونکو مناسبو ديتابيسونو (د معلوماتو د مرکزونو) متداومه پرمختيا او ساتنه او ددې قانون په حکمونو کې د درج شوو محرمو معلوماتو په استثنا، د ټولو ګټه اخيستونکو لپاره نومړو معلوماتو ته د لاسرسی د زمينې برابرول.

۸- د احصائيوي معلوماتو د راټولولو، توحيدولو او د خپرولو د وخت د څرنګوالي په هکله د تصميم نيول.

۹-هرکال دځايي نفوس او د مړينې او ولد دزيږداندازي ته په پام سره دهېواد د ټول نفوس د وروستي شمير تثبيتول او وړاندې کول.

ستندرد های احصائيوی مناسب جهت استفادهٔ وزارت ها و ساير ادارات دولتی.

۷- انکشاف متداوم و نگهداشت ديتابيس های (مراکز معلومات) مناسب حاوی معلومات احصائيوی و مساعد ساختن زمينهٔ دسترسی به معلومات مذکور برای همه استفاده کنندگان به استثنای معلومات محرم مندرج احکام اين قانون.

۸- اتخاذ تصميم درمورد شيوهٔ جمع آوری، توحيد و چگونگی زمان نشر معلومات احصائيوی.

۹- تثبيت و ارائه آخرين رقم نفوس کل کشور در هرسال با در نظرداشت جابجائی نفوس و ميزان مرگ ومير وزاد ولد.

## د کار د کلني پلان او رپوټ ترتيبول

**نهمه ماده:**

(۱) د احصائيې مرکزي اداره د کار پلان، د احصائيوي ارقامو د تقويم خپرول او کلنی رپوټ د کاري پروګرامونو، د احصائيوي عمده ارقامو دراټولولو، له په پام کې نيولو سره دخپرونې پلان د لګښتونو او عوايدو له اټکل سره يو ځای، د مالي کال له پيل څخه درې مياشتې د مخه برابروي او موضوع د احصائيې ملي کميټې ته وړاندې کوي.

داحصائيې ملي کميټه له ارزونې وروسته رپوټ، له خپلو نظريو سره يوځای، دمنظورۍ په غرض حکومت ته وړاندې کوي.

(۲) د احصائيې مرکزي اداره د مالي کال په پيل کې، احصائيوي نشراتي تقويم چې د هماغه کال د

## ترتيب پلان کار و گزارش سالانه

**مادهٔ نهم:**

(۱)ادارهٔ مرکزی احصائيه، پلان کار، تقويم نشر ارقام احصائيوی وگزارش سالانه را با درنظرداشت پروگرام های کاری،جمع آوری ارقام عمدهٔ احصائيوی، پلان نشريه همراه با تخمين مصارف وعوايد را سه ماه قبل ازشروع سال مالی، تهيه و موضوع را به کميتهٔ ملی احصائيه ارائه می نمايد.

کميتهٔ ملی احصائيه بعد از ارزيابی، گزارش راهمراه با نظريات خود به حکومت غرض اخذ منظوری ارائه می نمايد.

(۲) ادارهٔ مرکزی احصائيه درشروع سال مالی،تقويم نشراتی احصائيوی را که دربرگيرندهٔ مهم

خپریدو وړ نوو ډیرو مهمو احصائیو لرونکي وي، خپروي.

(۳) د احصائیې مرکـــزي اداره د مالې کال له پـــای تـــه رســیدو وروســـته د درې وو میاشـــتو پـــه ترڅ کې د خپلـــو کړنـــو رپـــوټ چې د تـــېر کال د فعـــالیتونو پـــه هکله د معلومـــاتو لرونکـــی وي، داحصائیې ملي کمیټې ته وړانـــدې کوي، کمیټه رپوټ لـــه څیړنـــې وروسته حکومت او ملي شـــورئ ته وړاندي کوي.

# دریيم فصل

## د احصائیوي معلوماتو راټولول

### د احصائیې کارکوونکي

**لسمه ماده:**

(۱) د احـــصائیې مرکـــزي اداره کولای شي داحـــصائیو او هغـــو معلوماتو دراټولولـــو، ترتیبولـــو او تحلیلولو پـــه منظـــور چـــې پـــه ســـــــوداګریزو او صـــــنعتي،

ترین احصائیه های جدید قابل نشر همان سال باشد، نشرمی نماید.

(۳) ادارۀ مرکـــزی احـــصائیه درخلال سه مـــاه بعـــد ازخـــتم سال مـــالی گـــزارش اجـــراآت خـــویش را کـــه دربرگیرنـــدۀ معلومات در بارۀ فعالیـــت هـــای سال گذشته می باشد، به کمیتـــۀ ملـــی احـــصائیه ارائـــه نمـــوده، کمیتۀ گزارش را بعـــد ازبررســـی به حکومت و شورای ملی ارائـــه می نماید.

# فصل سوم

## جمع آوری معلومات احصائیوی

### کارکنان احصائیه

**مادۀ دهم:**

(۱) ادارۀ مرکزی احصائیه مـــی تواند بـــه منظـــور جمـــع آوری، ترتیب وتحلیل احـــصائیه هـــا و معلومـــاتی کـــه درامورتجـــارتی وصـــنعتی، مـــالی، اجتمـــاعی،

مالـــي، ټولنیزو، اقتصادي چـــارو او نورو مـــواردو کــې ګټـــور او دعـــامو پــــه ګټـــه وي ســــروې کـــوونکي، اســـتازي او نـــور کارکوونکي د قانون د حکمونـــو مطابق استخدام کړي.

(۲) د احـــصائیې مرکـــزي اداره کولای شي د اړتیا پرمهال د دندو د ترســـره کولـــو او د مرکـــزي احصائیې د واکونو د کارولو پـــه موخـــه، د اړونـــد تقنینـــي ســـند مطابق د ټاکلي وخت موده لپاره د ملکي خدمتونو لـــه کـــارکوونکو څخه د خدمت پـــه غـــرض کـــار واخلي.

## د معلوماتو شریکول

**یوولسمه ماده:**

د احصائیې مرکزي اداره کـــولای شي د هغو معلوماتو د تبادلې په اړه چې له ځواب ورکوونکو څخه یې لاسته راوړي، له وزارتونو، ادارو، ښاروالیو او نورو حقوقي شخصیتونو

اقتـــصادی و ســـایر مـــوارد مفید و بـــه نفـــع عامـــه باشـــد، سروی کننده گـــان، نماینـــدگان و سایر کارکنان را مطـــابق بـــه احکـــام قـــانون اســـتخدام نماید.

(۲) ادارهٔ مرکـــزی احـــصائیه مـــی توانـــد عنـــداللزوم از کارکنـــان خـــدمات ملکـــی غـــرض اجـــرای وظـــایف و اعـــمال صـــلاحیت هـــای احصائیهٔ مرکـــزی، طبـــق ســـند تقنینـــی مربـــوط بـــرای مـــدت زمـــان معـــین استحـــصال خدمت نماید.

## تشریک معلومات

**مادهٔ یازدهم:**

ادارهٔ مرکزی احصائیه می توانـــد موافقتنامهٔ مبنی برتبادلهٔ معلوماتی را که ازجواب دهندگان بدست مـــی آورد بـــا وزارت هـــا، ادارات، شاروالی ها و سایر شخصیت های

سره موافقه ليک لاسليک کړي، په دې شرط چې ځواب ورکوونکی په دې برخه کې ددمخه ليکلې خبرتيا په استولو سره، خبرکړل شوی وي.

که چيرې ځواب ورکوونکی د معلوماتو له ورکولو سره خپله نه موافقه په ليکلې توګه د احصائيې مرکزي ادارې استازي ته خبر ورکړي، په دې صورت کې نوموړي معلومات له وزارتونو، ادارو، ښارواليو يا نورو حقوقي شخصيتونو سره نه شريک کيږي، خو دا چې له ځواب ورکوونکي څخه د معلوماتو د غوښتنې د ليکلې اجازې لرونکي وي.

## د احصائيوي معلوماتو فورمې

### دوولسمه ماده:

د احصائيې د راټولولو کارکوونکي ددې قانون د حکمونو مطابق، د مقتضي معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره، اړوندو اشخاصو اومراجعو ته

حقوقی امضاء نماید، مشروط براینکه، جواب دهنده با ارسال اطلاعیهٔ کتبی قبلی در زمینه مطلع گردیده باشد.

هرگاه جواب دهنده کتبآ ازعدم موافقت خود به اعطای معلومات به نمایندهٔ ادارهٔ مرکزی احصائیه اطلاع بدهد، دراین صورت معلومات متذکره با وزارت ها، ادارات، شاروالی ها یا سایر شخصیت های حقوقی شریک نمی گردد، مگر اینکه اجازهٔ کتبی قانونی مطالبهٔ معلومات از جواب دهنده دارا باشند.

## فورمه های معلومات احصائیوی

### مادهٔ دوازدهم:

کارکنان جمع آوری احصائیه مطابق احکام این قانون، فورمهٔ را جهت حصول معلومات مقتضی به اشخاص ومراجع مربوط

يوه فورمه وراستوي.

هغه شخص چې فورمه ورته وراستول کيږي، سوالونوته ځواب ورکوي او د فورمې له سموالي څخه تصديق کوي او هغه په فورمه کې درج په ټاکل شوي وخت د احصائيې مرکزي ادارې ته تسليموي.

## مالياتي اظهارنامې

**ديارلسمه ماده:**

(۱) د احصائيې د مرکزي ادارې کارکوونکي کولای شي، مالياتي اظهارنامې، تصديق ليکونه، صورت حسابونه او نور هغه سندونه چې پرعايداتو باندې د مالياتو د قانون د حکمونو مطابق، د ماليې وزارت په اړوندو دفترونو کې ثبت شوي، ترکتنې لاندې ونيسي.

(۲) د ماليې وزارت د مالياتي اظهارنامو، تصديق ليکونو،

ارسال می نمایند.

شخصی که فورمه برایش ارسال می گردد، به سوالات جواب داده، از صحت فورمه تصديق و آنرا در وقت معينهٔ مندرج فورمه، به ادارهٔ مرکزی احصائيه تسليم می نمايد.

## اظهارنامه های مالياتی

**مادهٔ سيزدهم:**

(۱) کارکنان ادارهٔ مرکزی احصائيه می تواند، اظهارنامه های مالياتی، تصديق نامه ها،صورت حسابات وساير اسنادی راکه مطابق احکام قانون ماليات برعايدات دردفاتر مربوط وزارت ماليه ثبت گرديده، مورد مطالعه قرار دهند.

(۲) وزارت ماليه زمينهٔ دسترسی به نتايج اظهارنامه های

صورت حسابونو او نورو سندونو پایلوته د لاسرسۍ زمینه د احصائیې د مرکزي ادارې په واک کې ورکوي.

**د ګمرکونو د وارداتو او صادراتو اظهارنامه**

**څوارلسمه ماده:**

د مالیې وزارت د هېواد د وارداتو او صادراتو د اظهارنامو د استولو دلایل او موجبات،ددې قانون د حکمونو مطابق،د اړوندې لیږدیدنې د وسایلو له تفصیل سره یو ځای،د احصائیې مرکزي ادارې ته برابروي.

**د نفوسو سرشمیرنه**

**پنځلسمه ماده:**

(۱) په هېوادکې د نفوسو او استوګنځي (مسکن) سرشمیرنه د احصائیې د مرکزي ادارې له لارې هر لس کاله ورروسته،د جمهور رئیس د فرمان پر بنسټ صورت مومي.

(۲) د نفوسو سرشمیرنه د هرې

مالیاتی، تصدیق نامه ها، صورت حسابات و سایر اسناد را در اختیار ادارهٔ مرکزی احصائیه قرار می دهد.

**اظهارنامهٔ واردات و صادرات گمرکات**

**مادهٔ چهاردهم:**

وزارت مالیه دلایل و موجبات ارسال اظهارنامهٔ واردات و صادرات کشور را توأم با تفصیل وسایل انتقال مربوط مطابق احکام این قانون به ادارهٔ مرکزی احصائیه فراهم می نماید.

**سرشماری نفوس**

**مادهٔ پانزدهم:**

(۱) سرشماری نفوس و مسکن درکشور ازطریق ادارهٔ مرکزی احصائیه هر ده سال بعد به اساس فرمان رئیس جمهور صورت می گیرد.

(۲) سرشماری نفوس به

ولسوالۍ په تفکیک د تشکیل له په پام کې نیولو سره صورت مومي.

**کرنیزه سرشمیرنه**

**شپاړسمه ماده:**

کرنیزه سرشمیرنه دکرنې، ابولګولو اومالدارۍ وزارت سره په همغږۍ کي د احصائیې د مرکزي ادارې لخوا هر لس کاله وروسته یوځل صورت مومي.

**د سرشمیرنې پوښتنلیکونه**

**اوولسمه ماده:**

هغه پوښتنې چې د سرشمیرنې په اړه د احصائیې دمرکزي ادارې له خوا طرح او د احصائیې د ملي کمیټې په واسطه تصویبږي، د جمهور رئیس له منظورۍ وروسته د تطبیق وړ دي.

تفکیک هر ولسوالی با نظرداشت تشکیل صورت می گیرد.

**سرشماری زراعتی**

**مادهٔ شانزدهم:**

سرشماری زراعتی توسط ادارهٔ مرکزی احصائیه با هماهنگی وزارت زراعت،آبیاری ومالداری هرده سال بعد یکبارانجام می یابد.

**پرسشنامه های سرشماری**

**مادهٔ هفدهم:**

سوالاتی که دررابطه به سر شماری از طرف ادارهٔ مرکزی احصائیه طرح و توسط کمیتهٔ ملی احصائیه تصویب می گردد، بعد از منظوری رئیس جمهور قابل تطبیق می باشد.

## ځلورم فصل

### د معلوماتو د محرميت خونديتوب

### د ارقامواومعلوماتومحرميت

**اتلسمه ماده:**

(۱) هېڅ شخص نشي کولای د هغو اشخاصو مشخصه معلومات چې په عقد شوي موافقه ليک کې، ددې قانون د حکمونومطابق وړاندې کيږي، ولولي، خوداچې رسماً استخدام شوی وي او تحليف يې پرځای کړی وي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص چې سوګند يې ياد کړی وي، نشي کولای هغه معلومات چې ددې قانون د حکمونومطابق يې لاسته راوړي دي، په داسې توګه افشاءکړي چې له سوداګرو، شرکتونويا سازمانونو سره د اظهارنامو د مندرجاتو تعلق (تړاو) مشخص او ممکن وګرځوي. په عقد شوي موافقه ليک کې د

## فصل چهارم

### حفظ محرميت معلومات

### محرميت ارقام و معلومات

**مادهٔ هجدهم:**

(۱) هيچ شخص نمی تواند معلومات مشخصهٔ اشخاصی راکه درموافقتنامهٔ منعقده، مطابق احکام اين قانون ارائه می گردد، مطالعه نمايد، مگر اينکه رسماً استخدام شده وتحليف را بجا آورده باشد.

(۲) شخص مندرج فقرهٔ(۱) اين ماده که سوگند ياد نموده باشد، نمی تواند معلوماتی را که طبق احکام اين قانون بدست آورده،طوری افشأ نمايد که تعلق مندرجات اظهارنامه ها را با تاجران، شرکت ها يا سازمانها، مشخص و ممکن سازد. انتقال معلومات

درج شوو شرايطو مطابق د معلوماتو لېږدېدل، له دې امر څخه مستثنې دي.

تحليف

نولسمه ماده:

(۱) هغه کارکوونکي چې د احصائيې په مرکزي اداره کې استخدامېږي، په کاربانـدې لـه پيل د مخه، لاندې تحليف پرځای کوي:

– زه...... د خدای (ج) په نامه سوګند يادوم چې د احصائيې د کارکوونکي په توګه خپلې راسپارل شوې دندې، د احصائيې د قانون د حکمونو مطابق او د نافذو مقرراتو له په پام کې نيولو سره په بشپړه ربنتينولۍ او ايمانداری ترسره او هېڅ ډول اسرار يا ارقام به چې ددندې ترسره کولو په وخت کې يې ترلاسه کوم، له قانوني واک پرته افشاء نه کړم.

طبق شرايط مندرج موافقتنامهٔ منعقده ازاين حکم مستثنی می باشد.

تحليف

مادهٔ نزدهم:

(۱) کارکنانيکه دراداره‌ٔ مرکزی احصائيه استخدام می شوند، قبل از آغاز به کار، تحليف ذيل را به جا می آورند:

– اينجانب....... بنام خداوند(ج) سوگند ياد می نمايم که وظايف محولهٔ خود را به حيث کارکن احصائيه طبق احکام قانون احصائيه وبا رعايت مقررات نافذ با کمال صداقت و ايمانداری اجراء و هيچ نوع اسرار يا ارقامی را که حين انجام وظيفه حاصل می نمايم، بدون صلاحيت قانونی افشاء نه نمايم.

(۲) که چيرې حکمي شخصيت د جلا قرارداد مطابق د احصائيې په مرکزي اداره کې د ځانګړو خدمتونو پرترسره کولو وګومارل شي، اداري مسئول او د اړوندو خدمتونو په ترسره کولو مؤظف نور مامورين يا استازي، په قرارداد کې د درج شوو دندوله پيلولو د مخه لاندې سوګند پرځای کوي:

–زه...... د خدای(ج) په نامه سوګند يادوم چې د يوه خصوصي کارکوونکي په توګه (د...حقوقي شخصيت نوم... ) خپلې دندې په بشپړه ريښتينولۍ او ايمانداری سره داحصائيې د قانون مطابق ... تعميلولو په برخه کې... او د نافذو مقرراتو او اړوندو لايحو له په پام کې نيولو سره سرته ورسوم اوهيڅ ډول اسرار اويا ارقام به چې د احصائيې

(۲) هرگاه شخصيت حکمی طبق قرارداد جداگانه به اجرای خدمات ويژه دراداره‌ٔ مرکزی احصائيه مؤظف گردد، مسئول اداری و سايرمامورين يا نمايندگان موٴظف به اجرای خدمات مربوط، سوگند آتی را قبل از آغاز وظايف مندرج درقرارداد بجا می آورند:

– اينجانب...... بنام خداوند(ج) سوگند ياد می نمايم که منحيث يک کارکن خصوصی(... نام شخصيت حقوقی...) وظايف خود را با کمال صداقت و ايمانداری درخصوص تعميل... طبق قانون احصائيه وبا رعايت مقررات نافذ ولوايح مربوط اجرا نمايم و هيچ نوع اسرار ويا ارقامی راکه بنابر ارتباط وظيفوی در

په مرکزي اداره کې دخپلې دندې په اړوند ترلاسه کوم، له قانوني واک پرته افشاء نه کړم.

## پنځم فصل

## احصائيوي معلوماتو ته د لاسرسي اجازه

**د معلوماتو افشاء کول**

**شلمه ماده:**

احصائيوي معلومات په لاندې حالاتو کې د احصائيې د مرکزي ادارې له خوا افشاء کيدی شي:

۱- په هغه صورت کې چې د اړوند شخص يا مؤسسې له خوا د احصائيوي معلوماتو د افشاء کيدو په هکله، په ليکلي توګه موافقه صورت موندلی وي.

۲- په هغه صورت کې چې سوداګر يا د تشبث مالک د معلوماتو د افشاء کيدو په هکله په ليکلې توګه موافقه کړې وي.

۳- په هغه صورت کې چې د عامه

ادارهٔ مرکزی احصائيه حاصل می کنم، بدون صلاحيت قانونی افشاء نمی نمايم.

## فصل پنجم

## اجازهٔ دسترسی به معلومات احصائيوی

**افشای معلومات**

**مادهٔ بيستم:**

معلومات احصائيوی درحالات ذيل ازطرف ادارهٔ مرکزی احصائيه افشاء شده می تواند:

۱- درصورتی که درمورد افشای معلومات احصائيوی به صورت تحريری از طرف شخص يا مؤسسهٔ ذيربط موافقت صورت گرفته باشد.

۲- درصورتی که تاجر يا مالک تشبث در مورد افشای معلومات به صورت کتبی موافقه نموده باشد.

۳- درصورتی که طبق

خلکو لپاره معلوماتو ته لاسرسي د قانون مطابق جواز ولري.

۴- په هغه صورت کې چې معلومات په کوم مشخص ځواب ورکوونکي پورې اړوند نه وي.

۵- په هغه صورت کې چې معلومات د تأسيساتو، مؤسسويا تشبثاتو د فهرست يا لست په ډول په داسې توگه ترتيب شوي وي چې د هغو په هکله له لاندې موادو څخه ټول يا يوه برخه توضيح کړي:

- د هغو نوم او آدرس.

- د تيلفون شميرې چې په احصائيوي موضوعگانو کې له هغو سره د اړيکو د تأمينولو لپاره د گټې اخيستنې وړ وي.

- هغه محصولات چې د تشبث په بهير کې د هغو په واسطه توليد، برابر، تحليل، ليږدول، زيرمه، پيرودل يا پلورل کېږي يا هغه خدمتونه چې د هغوی په واسطه برابرېږي.

قانون دسترسی به معلومات برای عامهٔ مردم مجاز باشد.

۴- درصورتی که معلومات به کدام جواب دهندهٔ مشخص مربوط نباشد.

۵- درصورتی که معلومات به شکل فهرست یا لست تأسیسات مؤسسات یا تشبثات طوری ترتیب شده باشد که همه یا قسمتی ازمواد ذیل را درمورد آنها توضیح نماید:

- اسم و آدرس آنها.

- نمرات تیلفون که برای تأمین ارتباط با آنها درموضوعات احصائیوی قابل استفاده باشد.

- محصولاتی که درجریان تشبث توسط آنها تولید، تهیه، تحلیل، انتقال، ذخیره، خریداری یا فروش گردیده ویا خدماتی که توسط آنها فراهم می شود.

– د هغوکارکوونکو یا اشخاصو شمیر چې په کارګومارل شوي دي.

## د معلوماتو خوندیتوب

**یوویشتمه ماده:**

(۱) د احصائیې مرکزي ادارې ته وړاندې شوي معلومات، ددې قانون د حکمونو مطابق خوندي دي، د اثباتوونکو سندونوپه توګه له هغو څخه ګټه نشي اخیستل کیدی. ددې قانون په اتلسمه ماده کې درج شوی حکم له دې امرڅخه مستثنيٰ دی.

(۲) دولتي او نادولتي ادارې او نورټولنیز سازمانونه نشي کولای، د احصائیې د مرکزي ادارې کارکوونکی چې ددې قانون مطابق یې سوګند پرځای کړی وي، د شهادت په اداء کولو یا د هغو معلوماتو، سندونو یا سابقې په برابرولو ملزم کړي چې ددې قانون د حکمونو له تطبیق څخه یې لاسته راوړي دي.

– تعداد کارکنان یا اشخاصی که بکار گماشته شده اند.

## مصئونیت معلومات

**مادهٔ بیست ویکم:**

(۱) معلومات ارائه شده به ادارهٔ مرکزی احصائیه طبق احکام این قانون مصئون بوده، بحیث اسناد اثباتیه از آن استفاده شده نمی تواند. حکم مندرج مادهٔ هجدهم این قانون از این امر مستثنی است.

(۲) ادارات دولتی و غیردولتی و سایر سازمانهای اجتماعی نمی توانند، کارکن ادارهٔ مرکزی احصائیه را که طبق این قانون سوگند بجا آورده باشد، به اداء شهادت یا تهیهٔ معلومات،اسناد یا سوابقی ملزم نماید که از تطبیق احکام این قانون بدست آورده است.

# شپږم فصل

## جزايي حکمونه

### د محرمومعلوماتوافشاءکول

**دوه ويشتمه ماده:**

هغه شخص چې د دندې د ترسره کولو په وخت کې يې معلومات لاسته راوړي، په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه هغه شخص ته چې ددې قانون د حکمونو مطابق يې دتر لاسه کولو دشرايطو لرونکی نه وي، په داسي توګه ولېږدوي يا يې افشاء کړي چې پر ونډو، د پور پر سندونو يا نورو بها لرونکو سندونو، توليداتو، امتعې يا د بازار پر نرخ باندې اغيزه واچوي، له احوالو سره سم د واکمنې محکمې له خوا له دوو زرو څخه تر پنځو زرو (۲۰۰۰ تر۵۰۰۰) افغانيو پورې په نغدي جزاء يا ترڅلورو مياشتو پورې په حبس يا په دواړو محکومېږي.

# فصل ششم

## احکام جزايی

### افشای معلومات محرم

**مادهٔ بيست و دوم:**

شخصی که معلوماتی را هنگام اجرای وظيفه بدست آورده، بصورت مستقيم يا غيرمستقيم به شخصی که طبق احکام اين قانون واجد شرايط دريافت آن نباشد، طوری انتقال يا افشاء نمايد که بالای سهام، اسناد قرضه يا ساير اسناد بها دار، توليدات، امتعه يا به نرخ بازار اثر وارد نمايد، حسب احوال به جزای نقدی از دو الی پنج هزار(۲۰۰۰ الی ۵۰۰۰) افغانی و يا حبس الی چهار ماه و يا هردو از طرف محکمهٔ ذيصلاح محکوم می گردد.

**د احصائيې د مرکزي ادارې د کارکوونکو د هويت د کارت تزوير**

**درويشتمه ماده:**

هغه شخص چې د احصائيوي معلوماتو د برابرولو يا نورو اړوندو چارو په منظور د احصائيې د اړوندو کارکوونکو د هويت له تزويري کارت څخه ګټه واخلي، له احوالو سره سم د واکمنې محکمې له خوا له درې زرو څخه تر لسو زرو (۳۰۰۰ تر ۱۰۰۰۰) افغانيو پورې په نغدي جزاء يا تر شپږو مياشتو پورې په حبس يا دواړو محکومېږي.

## اووم فصل

## وروستني حکمونه

**سمبول**

**څليرويشتمه ماده:**

د احصائيې مرکزي اداره، د ځانګړي سمبول لرونکې ده چې په اړوندو خپرونو، پاڼو او چاپي

**تزوير کارت هويت کارکنان ادارهٔ مرکزی احصائيه**

**مادهٔ بيست و سوم:**

شخصی که از کارت تزويری هويت کارکنان ادارهٔ مرکزی احصائيه به منظور فراهم آوری معلومات احصائيوی يا ساير امور مربوط استفاده نمايد، حسب احوال به جزای نقدی از سه الی ده هزار (۳۰۰۰ الی ۱۰۰۰۰) افغانی ويا حبس الی شش ماه و يا هردو از طرف محکمهٔ ذيصلاح محکوم می گردد.

## فصل هفتم

## احکام نهايی

**سمبول**

**مادهٔ بيست و چهارم:**

ادارهٔ مرکزی احصائيه دارای سمبول خاص بوده که در نشريه ها، اوراق و اسناد مطبوع

سندونو کې منعکسېږي.

<u>د مقررې وضع کېدل</u>

**پنځه ويشتمه ماده:**

د احصائيې مرکزي اداره کولای شي د دې قانون د ښه تطبيق په منظور، مقرره طرح او له پړاوونو څخه ئې تېره کړي.

<u>د انفاذ نېټه</u>

**شپږويشتمه ماده:**

دغه قانون په رسمي جريده کې له خپريدو وروسته نافذېږي او په نافذېدو سره يې د (۱۴۲۱) هـ.ق کال په (۷۹۲) گڼه رسمي جريده کې خپور شوی د احصائيې قانون لغو کيږي.

مربوط منعکس می گردد.

<u>وضع مقرره</u>

**مادۀ بيست و پنجم:**

ادارۀ مرکزی احصائيه می تواند به منظور تطبيق بهتر احکام اين قانون مقررۀ را طرح و طی مراحل نمايد.

<u>تاريخ انفاذ</u>

**مادۀ بيست و ششم:**

اين قانون بعد از نشر در جريدۀ رسمی نافذ و با انفاذ آن قانون احصائيه منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۷۹۲) سال (۱۴۲۱)هـ.ق ملغی می گردد.

## اشتراک سالانه :

در مرکز وولایات : (۹۰۰) افغـــــانی

برای مامورین دولت : با (۲۵) فیصد تخفیف

برای متعلمـــین ومحصلین با ارائه تصدیق ،نصف قیمت

خارج از کشور : (۲۰۰) دالر امریکائی .

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL
# GAZETTE

## Extraordinary Issue

# Statistics Law

**Date: ٣rd JULY .٢٠١٣**

**ISSUE NO :(١١١٠)**